# د صابر په غزل کښې د ترقي پسندۍ او اشتراکيت مربوط امتزاج

**ShafiUllah***

**ABSTRACT:**

Sahib shah Sabir is a prominent Poet of Pashto Literature .Like other Poets of his age he is alaso affected by progressivism and communalism.Specially his ghazal is a perfect combination of these two theories.as a poet is a representative of his contemporary society so this paper is an attempt to analyze his ghazal and represent the impact of progressivism and communalism in it.

غـزل د شـاعرۍ پـه زړۀ پـورې صـنف راروان دے. پـه مشـرقي ادبيـاتو کښې ورته لوئے ارزښت تر لاسه دے. او بيا په نن دور کښې خو کـه وګـورو نـو د غزل سره مينه لا زياته شوې ده. د پخواني پښتو غزل نه راواخله تر ننني نـوي غزل پورې د غزل لمنه په رنګ رنګ فکري موضوعاتو ګل شوې ښکاري. پخوا که د عشقِ حقيقي او عشقِ مجازي احساسات او کېفيات د غـزل د وجـود برخـه وه. نو نن خبره خارجي مسئلو، سماجي روغـو نـاروغو، سياسـي ادلـون بـدلون، نوي انساني قـدرونو او نفسـياتي کړلېچونـو او دغسـې نورو ډېـرو موضـوعاتو پورې رارسېدلې ده.

د ادب نقـادانو عمومـاً غـزل د موضـوع (داخليـت) او نظـم د معـروض (خارجيت) سره تړلے دے. ځکه چې په غزل کښې د شاعر د بـاطن ژوره عکاسـي

* Ph.D Research Scholar Pashto Department, University of Peshawar

لیدے کتے شي. او په نظم کښې د خارج زیات تره عکسونه پرېږي. خو په نوي دور کښې دغه تقسیم باوري نهٔ دے پاتې شوے. په دې چې نوے نظم د معروض سره سره د داخلي او بېخي شخصي کېفیاتو آئینه دار ګرځېدلے دے. دغه شان غزل هم د شخصي او موضوعي کېفیتونو نه علاوه د خارجي صداقتونو، ټولنیزو سمو ناسمو او نورو ډېرو موضوعاتو چې تعلق ئې د موضوع په ځائے د معروض سره دے. خپله لمنه کښې ځائې کړې دي. غرض دا چې نوي غزل دغه دوارِه روایات یو بل ته غاړې ایستي دي.

ډاکټر صاحب صابر د پښتو د نوي غزل په سرخڼه کښې خپله برخه کار په غوره توګه سر ته رسولے دے. د هغهٔ غزل په یو وخت د هغهٔ د داخل ترجمان هم ګرځېدلے او د خارج نه ئې هم خپله لمنه نهٔ ده راغونډه کړې.

د شلمې صدۍ په اخري لسیزو او د یوویشتمې صدۍ تر ورومبۍ لسیزې پورې د پښتو شعروادب په علاقه د پروفېسر ډاکټر صاحب شاه صابر د شعر او نثر علمیت، مقصدیت، عصري، سیاسي، تاریخي او تهذیبي شعور، طبقاتي لاندې باندې، جمالیاتي نظر او خورې ورې مطالعې خپل رنګونه په خلقو خوښ کړي او تسلیم کړي دي. د هغهٔ په شاعرۍ کښې خوږه ژبه، ښکلے انداز، برمحل علامات، تراکیب، روانې پستې قافیې او ردیفونه پکار شوي دي. د شعر ژبه اثرناکه وي، شګفته وي، سړے زر اماده کوي ځکه هغهٔ د شعر په ذریعه د خلقو عقل او شعور بېداروؤ.

د پښتو د جدید غزل په مد کښې د ډاکټر صابر غزل ګڼ فکري اړخونه لرلې دي. دغه هر یو اړخ د پوره څېړنې غوښتنه کوي. دغه ګڼ فکري اړخونو کښې یو اړخ د ترقي پسندۍ هم دے. چې د صابر په شاعرۍ کښې ورته ډېر اهمیت تر لاسه دے. که هر څو دغه فکر د هغوي په نظم کښې زیات جوت دے. خو د هغهٔ غزل هم له دغه رنګه خالي نهٔ دے پاتې شوے. تر ټولو وړاندې د هغوي هم دغه فکر (ترقي پسندۍ) ته راځم او تر خپله وسه ئې رڼوم.

پښتو شعروادب ته د ترقي پسند تحریک اثرات د مغرب نه رارسېدلي دي. په ورومبي ځل ئې په متحده هندوستان کښې د انجمن ترقي پسند مصنفین د سېوري لاندې سر پورته کړو. ځکه چې د ترقي پسند تحریک منشا د انساني ژوند ترقي او خوشحالي وه. او په متحده هندوستان کښې خو هسې هم د کلونو راسې د تيارو او نفرتونو لړې د سامراج په صورت کښې خورې وې. د نفرت او وحشت نه خلاصے د ترقي پسندۍ په آئین کښې جوت مقام لري. په دې وجه د برصغیر پاک و هند انسانانو دغه اثرات ډېر زر قبول کړل. او د انساني ودې دپاره ئې عملي اقدامات شروع کړۀ. ترقي خوښ لیکوالو د ظلم، جبر، استحصال او سامراج نه د ازادۍ عملي مبارزه سر ته کوله او د عصري غوښتنو په سمي شاعرانو څۀ دا رنګ فکرونه خورول غوره اوګڼل:

شو برباد زمینداران په مالیه کښې
چې زیاتي کړي فرنګیان په مالیه کښې

زمیندار لوږه بربنډه کښې ګزران کړي
ورپسې راشي طوفان په مالیه کښې

د ظالم حکومت بېخ اوباسې خدایه
چې ګزران شي لږ اسان په مالیه کښې[1]

هر چاته معلومه ده چې ترقي پسند تحریک زیات اثرات د انقلابي او سیاسي سوچ نه اخذ کړي ؤ. او دغه وخت د سیاست د مېدان زیات نه زیات لوبغاړي خو په هندوستان کښې پاتې شو. ځکه نو د تقسیم نه پس ملکي حالات د خلقو د خیالاتو مطابق روان نۀ شو. بلکې بل اړخ ته ئې مخه اوکړه. د حالاتو مخه بدلول چې د چا په لاس کښې وه هغوي نۀ غوښتل چې عام اولس

دې زمونږه برابر وي. ځکه ئې يو ځل بيا د ظلم او استحصال بازار ګرم کړو. د پاکستان په خاوره د سياست هغه خوند پاتې نه شو. په دې د ترقي خوښ سوچ او فکر ابلاغ کم شو. ملکي واک چارو د اکثر خلقو خُلې بندې کړې او د غسې د دې تحريک غړي په کمېدو شو. خود نورو قومونو په نسبت په پښتون قوم کښې د سياست رجحان ډېر ؤ. ځکه ئې د ترقي پسند تحريک لمن پرې نۀ ښوده.

د اتلسمې صدۍ نه را په دېخوا د نړۍ په اکثرو هېوادونو د برطانوي او فرانسي استعماري قوتونو قبضه وه. په متحده هندوستان کښې هم د سوؤنو کلونو راسې د سامراج حکومت روان ؤ. او د شلمې صدۍ پورې ښۀ پُرسکونه چلېدو. خو د شلمې صدۍ د سر لګېدو سره د استعماري قوتونو مخ نيوے په زور او شور شو. او د برصغير پاک و هند انسانانو په نوي ډول د ژوند آغاز اوکړو.

د ظلم او استحصال نه د خلاصي په دې عملي مبارزه کښې پښتون قام د خدائي خدمتګارو په صورت کښې ډېره اهمه او بنيادي برخه اولرله. د دې کوششونو په وجه حالات قدرې د ترقۍ په لور روان شو. ځکه چې د عالمي جنګونو او قومي تحريکونو په نتيجه کښې په بېن الاقوامي سطح ډېر فلاحي او سماجي تنظيمونه جوړ شوي ؤ. د دغه ادارو په وجه که مظلوم ته انصاف ملاؤ نۀ شو خو د جنګ، بربريت او امريت رجحان د يوې خاصې طبقې پورې محدود پاتې شو. د ظلم او بربريت تصور پخوا هم ؤ او اوس هم شته. خو په دغه ورځو کښې د انقلابي او ترقي پسند تحريکونو په وجه انساني ژوند د ترقۍ او مهذبه ژوند خوبونه ليدل شروع کړۀ. د جديد دور په څنګ د دغه تحريک د سېوري لاندې شاعرانو اديبانو د انساني ژوند د نورو اصلاحاتو سره سره د عصري تقاضو په سمي معاشي او اقتصادي اړخ ته ډېره پام لرنه اوکړه.

د ذکر شوؤ حالاتو په تناظر کښې د شلمې صدۍ نه پښتو شعروادب کښې د ترقي پسندۍ باقاعده آغاز اوشو. دلته بايد چې يوه خبره سپينه شي. ترقي پسند سوچ او فکر په خپل وجود دننه يو وسيع معنٰی او مفهوم لري. دغه نظام د انساني ژوند په همه عواملو کښې کار لري. خو داسې ده چې دا فکر د ټولنيز ژوند د مروجه مسئلو په سمي پوهان پکاروي. د تقسيم نه پس که ملکي حالاتو ته غور کوو نو تر نن ورځې پورې زمونږه په ټولنه کښې طبقاتي لاندې باندې انساني ژوند د جمود ښکار کړے دے. که چرې زمونږه د معاشرې نه دغه رجحان ورک او ختم کړے شي. نو ارومرو به اولسي ژوند د بقا او خوشحالۍ په لور گامزن کېږي. دلته که د طبقاتي لاندې باندې په ټولو اړخونو رڼا اچوؤ نو گرانېږي هم او د معلوماتي تکرار نظر کېږو هم. خو کم از کم دغه ځو مسئلې د ترقي خوښ سوچ او فکر د شعوري هڅو نه بغېر نۀ حل کېږي. لکه دا چې په وطن کښې د انساني صحت د تحفظ، د آئنده نسل د تعليم و تربيت، د استحصال د مخ نوي او د ټول انسانيت د تحفظ دپاره مساوي او د سرېتوب ادارې او قانون جوړ کړے شي. گنې د دغه فکر ترقي ممکن نۀ ده. که چرې داسې اوشي نو د انسان درد او غم به کم شي. او د امن، خوشحالۍ، مستۍ او وفا سندرې به په اولس کښې عام شي. دا قسم شعور هر کله د ادب په نصيب شوے دے. ځکه شاعرانو په دغه سخته کښې خلقو له ډېر لاس ورکړو.

يو دور ؤ چې شاعرانو اديبانو به په دربارونو کښې مدحيه قصيدې وئېلې او ليکلې. او د هغوي د ژوند گڼ شمېر غرضونه به تر سره کېدۀ. د شاعر روزگار هم روان وؤ او جذباتي تسکين هم، او د بادشاهانو به دربار هم چلېدو. او د بادشاهۍ نشه به ئې هم په ځائے وه. خو چې انساني ژوند د جديد مشيني دور سره مخ شو نو هر سړے په ځان شو. سيالي جوړه شوه، د هر سړي په زړۀ کښې د بادشاهۍ او امريت نشې سرپورته کړو. کله چې ټول خلق په مشرۍ پسې شو نو په دغه زغل کښې ډېر خلق د زورورو د خپو لاندې راغلل. او

دغسې دغه خلق د پرېوتې طبقې په نامه یاد شو. ځکه چې د دغه سیالۍ دپاره د مضبوطو خپو لاسو او فولادي وزرو ضرورت ؤ. ځکه خو شاعر قصیدې وئېل پرېښودې او په سپینه وېنا مجبوره شو:

د خپل اختیار د اسمان سپل صابره
خپلې بڼې خپلې وزرې غـواړي[۲]

شاعر ادیب هم د جدید صنعتي دور ښکار شو. خو چونکې فن وهبي څیز دے او د قدرتي صلاحیتونو او قوتونو اظهار د انسان مجبوري ګرځېدلې ده. نو که شاعر ادیب د نوي دور د مادي سیالۍ جوګه نه شو. خو د شخصي قدرت له مخه ئې خپل وهبي هنرونه په بدل شکل کښې څرګند کړۀ. د وخت امر دا ؤ چې پښتانۀ قام په ټولنیز ژوند دننه د ظلم او جبر سره سره د ژوند د بنیادي ضرورتونو نه محرومه کړے شوي وو. ځکه پښتون شاعر ادیب د ژوند په بنیادي ضرورتونو ژوره خبره اوکړه. که چرې د تعلیم او صحت په مد کښې مثبت اقدامات پورته شي نو د انساني ژوند په بنیادي ضرورتونو کښې به اساني پیدا شي. دغه بنیادي ضرورتونه انسان ته رسول د ترقي پسند تحریک منشا وه. که چرې په ټولنیز ژوند کښې دغه مساوات راشي نو بیا خو په ترقي خوښ سوچ او فکر کښې د معاشي نظام د استحکام او د هغې د تبلیغ هېڅ ضرورت نۀ محسوسېږي. خو په اولس کښې د تعلیم او تربیت او مهذبه ژوند رجحان عام کول ګرانه ښکارېده. حالات سازګار نۀ وو. انسان ته دغه ضرورتونه پوره کول د عام اولس د وس خبره نۀوه او ملکي واک چارو دغه څۀ اولس ته ورکول نۀ غوښتۀ او نۀ غواړي. او چې چرته چرته په عام اولس کښې چا دغه مسئلې ښکاره کړې دي. نو د حکومتي واک چارو په پنجه کښې ګېر شوے دے.

پښتون قام په خپل ځان شته من دے خو د واک چارو سترګې ورته تړې دي. ځکه دغه تحریک کښې د افاقي سوچ او فکر په بنیاد د ژوند د بنیادي ضرورتونو نه پس د پښتون قام شاعرانو د اقتصادي يووالي فلسفې څرګندې کړې. د اشتراکي نظام دننه د بې انصافۍ څۀ عنصر په نظر نۀ راتلو. هر سړے پکښې په خپل ځان شته من ښکارېدو. ځکه د جدید دور جدید پښتون شاعر د عصري تقاضو او د قامي مړو سترګو په سمي د ژوند د بنیادي مسئلو سره سره په معاشي نظام ډېر په زړۀ پورې او تفصیلي خبره اوکړه. شاعرانو ادیبانو د مصلحت نه کار واخستو او په شعروادب کښې ئې د معاشي يووالي ابلاغ شروع کړو. ځکه که په دواړو مسئلو کښې په يوه غور اوشي نو اولسي ژوند به د جمود د تیارو نه رابهر شي. او د رڼ صبا سره به مخ شي.

د صابر په شخصیت کښې مترقي او مزاحمتي قوتونه د ازله موجود وو. د شاعر په حېث دغه اړخونو ته د هغۀ قدرتي پام ګرځېدلے ؤ. او په کلام کښې ئې د دغه جبلي صلاحیتونو انعکاس ډېره په غوره توګه ښکاره شوے دے. خو د هغۀ مترقي او مزاحمتي رويه ډېره مهذبه او شریفانه وه. هغه د سماجي مسئلو حل په دې غرض لټوۀ چې خپل اولس د نړیوال بدلون سره سیال کړي.

ځکه خو وائي:

د شـــیرینۍ شـــرطونه وپېژنـــه
فرهاده! هسې غرونه مۀ ماتوه[۳]

صابر د شاعرۍ د لطیف فن د مزاج او اسلوب په امتزاج رسېدو. رجحان ساز سړے ؤ. په ادب کښې د ژوند د نظریې او فلسفې قائله ؤ. د حقیقت نګارۍ نمائنده شاعر، د اشتراکي فکر څښتن او قامي وحدت علمبردار ؤ. ځکه ئې شعر په فني او فکري حواله قوي او محکم ښکاري. د هغۀ

شاعرانه مزاج او حساس نظر د هغهٔ د سياسي نظر، طبقاتي لاندي باندي او ترقي پسند بصيرت او بصارت په زړهٔ پورې عکاسي کوي:

د وخت قاضي دې پرې څهٔ نوې فتوې اولګوي
مونږ په دې خاوره نوے خيال نوي فکرونه کړو [۴]

ازادي ده ازادي ده ازادي ده
خو په نوم ريښتيا خبرو پابندي ده [۵]

"۱۹۳۵ کی پیرس کانفرنس جس نے برصغیر میں ترقی پسند تحریک کی نمو کیلئے فضا ہموار کی۔ اس دور کی بڑھتی ہوئی فسطائیت کے خلاف ایک منظم آواز تھی۔ اس میں روس کے کمیونسٹ مزاج کا عمل دخل موجود تھا۔ اوراس عمل دخل نے ہی ترقی پسند تحریک کا داخلی مزاج متعین کرنے میں اہم ترین کردار ادا کیا"۔ [۲]

صابر خپله ذاتي تجربه او مشاهده په مثبت انداز کښې د عصري تقاضو مطابق په تخليق کښې پکار کړې ده. او د جديد شاعرۍ د معيار او اعتبار په حواله ئې د نقادانو پام ځان ته ګرځولے دے. عثمان اولس يار د صابر د ترقي پسند سوچ د تشهير او شعري معيار په بابله وائي:

"پښتو ادب کښې صنوبر حسين کاکاجي، قلندر مومند، اجمل خټک، صاحب شاه صابر، سيف الرحمان سليم، عبدالرحيم مجذوب او د دې فکر نور کوم شاعران چې دي. دا خلق د ترقي خوښ فکر بنيادي پلويان وو. خو زما په خيال داسې ده چې قلندر مومند، اجمل خټک او مير مهدي شاه باچه ايکټيو پوليټيشن (Active Politician) وو. او د پارټۍ د سټيج نه ئې ايکټيو پوليټيکس (Active Politics)

کوو. په دغه تناظر کښې چې ګورو نو د دوي په شعر باندې د سياسي جلسې اثر غالب ښکاري لکه دا چې:

غټـــان غټـــان نېکـــان نېکـــان پېـــدا دي
دوي خـــو د ځايـــه جنتيـــان پېـــدا دي

يا لکه که د سائل صېب ځنې شاعري ګورو لکه:

راواخلئ بيا د انقلاب سرۀ نشانونه لېونو زلمو
دا خـــاوره انقـــلاب غـــواړي د ازادۍ انقـــلاب

دا قسمه شاعرۍ کښې جذباتي عنصر زيات دے. او ځائے په ځائے د سياسي نعره بازۍ ښکار شوې ده. خو په دغه دور کښې چې سېف الرحمان سليم او صاحب شاه صابر د سوشلسټ او کميونسټ فکر کوم تبليغ کړے دے. نو هغه ئې ډېر په علمي انداز کښې کړے دے. دغه رنګ په اردو ادب کښې حبيب جالبؔ د جذباتيت او سياسي نعره بازۍ ښکار شوے دے. او فېض احمد فېض خپل فکر په بليغ انداز کښې پېش کړے او صابر هم په علمي انداز کښې د قومي احساس او قومي تشخص خبره کړې ده".[۷]

د اشتراکي نظام مرسته او خورونه د نورو ډېرو شاعرانو سره سره صابر هم کوله. هغه هم د معاشرې ترقي د دغه معاشي نظام په قانون کښې ليده. ځکه چې هغه د مطالعې په حواله هم دغه فکر لرلو. او د عمل په حواله هم هغه يو مارکسټ شاعر او اديب ؤ. ځکه چې مارکسيزم د يو مثبت انساني رويې او اپروچ نوم دے. او صابر په دغه رويو د هر چا نه زيات رسېدو. ډاکټر عبدالخالق زيار د صابر د ترقي پسند سوچ او فکري رجحان په حقله وائي:

"د صاحب شاه فکري دوه رجحانات وو. يو مترقي او بل قام پرست. خو د حالاتو سره کله مترقي تله درنه شوې ده او کله قامي تله درنه شوې ده. کله چې د افغانستان حالات سازګار وو. په پښتنو دا حالات نهٔ وو راغلي نو که د هغه وخت شاعري ئې ګورې نو د مارکسي نظريې او خصوصاً د معاشي نظام پيروي پکښې ډېره په نظر راځي. لکه دا چې:

د آدم سمتهـــــــــــــــــ ځــــــــــامنو
پــــــــه ســــــــود او زيـــــــان مئينـــــــو
شابســـــــــــې ګټـــــــــه اوکـــــــــړئ
هلـــــــــــه دولـــــــــــت اوګټـــــــــئ
چرتــــــــه بـــــــې زرو نـــــــهٔ شـــــــئ
چـــــــې بـــــــې وزرو نـــــــهٔ شـــــــئ

خو کله چې د پښتنو وجود ته خطره پېښه شوې ده نو بيا د نېشنلزم (Nationalism) عنصر بره راغلے دے. ځکه چې وجود نه ئي نو بيا به سړے په هغې کښې د نظام خبره څهٔ اوکړي. د عصري حالاتو تقاضه وه ځکه صابر د امن او قام پرسته فکر شاعري کوله. او د شاعرۍ سره سره ئې د پښتون قوم د وجود دپاره مبارزه ترسره کوله. خو دې بې مسلکه خلقو له خو طبقاتي شعور ورکول لويه خبره ده. په دوي کښې خو انساني شعور هم نشته. نو په داسې وخت کښې به هغه نوره څهٔ خبره کوله".[۸]

د اقتصادي نظام نظريه د فرانس د زمکې نه په ټوله دنيا کښې خوره شوې ده. په دغه زمکه د صنعتي انقلاب نه پس څهٔ خلقو دغه نظام له ډېره وده

ورکړه. او د دغه نظريې بنيادي اصول ئې د ټولې نړۍ د انسانانو دپاره غوره اوګڼل. ځکه چې دا نظام د مذهبي او ثقافتي تصادم نه پاک او عاري ؤ. د مذهب او کلتور په حواله په چا هېڅ بنديز او قدغن نۀ ؤ. د هرې عقيدې او مسلک خلق په دې نظام کښې ځائے کېدۀ. ځکه چې د دې سسټم لاندې د معاشرتي ژوند ترتيب او سليقه مطالعه کېده. دا نه چې مذهبي اقدار او روايات نظرانداز کېدل. په دغه سبب د دنيا هرې مهذبه ټولنې د انساني ژوند د تقاضو په سمې دغه نظام ته هرکلے اووې.

پښتو ادب کښې د صنوبر حسېن کاکاجي، ولي محمد طوفان، قلندر مومند، همېش خليل او مير مهدي شاه باچا فکر و فن او عملي مبارزې د ترقي پسندۍ په باقاعده اغاز کښې لوئے کردار لوبولے دے. دغه تحريک پښتو ادب کښې ښۀ وده اوکړه او تر دې وخته ئې خپل وجود برقرار اوساتو. په دې چې په ټولنيز ژوند کښې نن هم ډېر خلق د سوشلېزم مرسته او د امرانه نظام غندنه کوي.

د ترقي پسند ډلې غړو په ډېرو سختو حالاتو کښې ژوند کړے دے. ځکه چې دا رجحان خپلول او په اولس کښې عام کول. د امريت او بربريت خلاف ښکاره بغاوت تصور کېږي. هر کله چې چا دغه عمل ښکاره کړے دے نو د ظلم جبر او استحصال په پنجه کښې ګېر شوے دے. ځکه چې د انسانيت او جمهوريت لارې چارې د ملک واک چارو او سرمايه دارو ته ډېر زيان رسوي:

> "مارکس کے خیال میں سماجی تبدیلیوں کے پیچھے کارفرما قوت محرکہ وہ جدوجہد ہے۔ جو زبوں حال طبقے بہتر سماجی اور معاشی مستقبل کے حصول کیلئے کرتے رہتے ہیں۔ چنانچہ اس نے تاریخ کو اقتصادی عوامل کی روشنی میں دیکھا اور معلوم کیا کہ سماجی ارتقاء طبقاتی کشمکش کا نتیجہ ہے"۔[۹]

دغه اسباب ؤ ځکه په جديد ادبياتو کښې د رومانويت ځائے د عمرانياتو وسيع مطالعې اونيوۀ. چې په عامه توګه ورته ترقي پسندي اووئېلے

شوه. سماجي او اقتصادي يووالے د حقيقت نګارۍ او ترقي پسندۍ واضحه شکلونه دي چې پوهان ئې د عصري تقاضو مطابق په مختلفو پېکرونو کښې وړاندې کوي. د ظالم لاس نيوے، معاشي مساوات، مهذبه ژوند او د امن او ښکلا سره سره د خارجي حقيقتونو څرګندونه د ترقي پسند ادب برخېره اړخونه دي. ځکه خو پښتون قام پرست او مترقي شاعر دغه اړخ ته ډېر پام ګرځولے ؤ.

د صابر غزل هم د انساني ژوند ترجمان دے. هغه چې په غزل کښې د معاشرتي ژوند کومه عکاسي کړې ده. دغه تصورات او افکار يو اړخ ته د اولسي ژوند غوښتنې پوره کوي او بل اړخ ته د هغۀ د داخلي درد او اضطراب نه هم لوستونکي خبر ساتي:

د څړيکو فصل مې سنبال کړو د پرهر په اوبو
د بارانونو څۀ معلومه ده چې څۀ به کوي[۱۰]

هغه د ظلم، جبر او نفرت خلاف انقلابي او مترقي سوچ له په خپل غزل کښې داسې ځائے ورکړو. چې د خلقو اودۀ ذهنونه ئې پرې ډېر زر رابېدار کړۀ. او دغسې تر هر چا زيات ترقي خوښ شاعر اديب ياد شو. او هغه په خپله هم وائي:

لـــري بــــه نـــۀ وي چـــې اودۀ زړونـــه راولـــړزوي
په دې دردونو کښې راغونډې د عمرونو څړيکې[۱۱]

زمـــونږ د شـــپې شـــوګيرې هســـې نـــۀ دي
پـــه ښـــار کښـــې زېـــري د ســـحر ګرځـــوو[۱۲]

صابر ترقي خوښ سوچ او فکر صرف د معاشي نظام د استحکام په غرض نهٔ ؤ خپل کړے بلکې دغه فکر ئې د خپلو وسیع معنو تر مخه پکارؤ. هغه ډېر په مهارت او سلیقه دننه پښتو غزل د ژوند د مسئلو، قامي احساساتو او عصري رجحاناتو ترجمان او عکاس اوګرځوؤ. هغه د قبیلوي جګړو، قامي وحدت او افاقي امن اظهار ډېر په فني پېرایه کښې ظاهر کړے دے. دغه سپور ستغ موضوعات هغهٔ ډېر په ساده او روانه شعري لهجه او جمالیاتي استعداد سره بیان کړې دي. د خپل وخت سنګینو حالاتو ته ډېر په ښکلي او زړهٔ راښکونکي انداز کښې اشارې کړې دي. دغه تصورات هر څوک ځان ته متوجه کوي لکه:

د وختونو په اسمان کښې د ستم وریځې برېښي
په مئینو زړونو لوئېږي د حالاتو تندرونه[۱۳]

تهٔ د نفرت ته د وحشت تهٔ د غرور ملګرے
زهٔ د جانان د ښو شوخ زهٔ د انصاف لښکر یم[۱۴]

د صابر تکل او واورې او ګلونه مجموعې د افغانستان د ثور او روسي انقلاب د وخت او حالاتو په تناظر کښې لیکلې شوې دي. او په دغه ورځو کښې زمونږ په خاوره د مزدور کسان پارټۍ زور هم خلقو ته ښکاره شوے ؤ. دلته شېر علي باچا او د هغهٔ ملګرو د طبقاتي لاندي باندي دپاره عملي هلې ځلې تر سره کولې. په دغه سبب د صابر اکثر موضوعات د ترقي پسند تحریک نه متاثره دي. د تکل اکثر شاعري د طبقاتي کشمکش او صنعتي دور نمائنده شاعري ده. اکثر برخه ئې په نظمونو کښې ده خو څهٔ نه څهٔ څرکونه ئې په غزل کښې هم برېښي. د مارکسي فکر خپلولو په وجه د تکل ټولګې موضوعات د ظلم او جبر په ضد ولاړ شوې دي. لکه:

کــه د یــو ادم ځــامن دي ځــئ پــه تاســو فېصــله شــوه
یو په کومه دعا خان د ے بل په څهٔ ګناه غریب د ے[۱۵]

د نفرت او وېرې ماحول د نړۍ په هره غېر مهذبه او وحشت ناکه ټولنه کښې د انساني ژوند مخ نیوے ارومرو کوي. ولې چې شکلونه ئې د یو بل نه بدل وي. لکه څنګه چې زمونږه په وطن کښې د سیاست او حفاظت په نامه د امریت او بربریت شهنشاهیت روان د ے او د مودو مودو نه چلېږي. خو تر اوسه د غریب اولس استحصال ته څوک استحصال نهٔ وائي. دغه رنګ په هره ټولنه کښې انسان د څهٔ نه څهٔ ظلم او پرېشانۍ سره مخ د ے.

د عالمي جګړو او ترقي پسند تحریکونو په نتیجه کښې نړیوال ژوند په شلمه صدۍ کښې قدرې ساه واخسته او انساني ژوند د وړاندې تلو کامیابه هڅه شروع کړه. دغسې دغه صدي د جدید انساني دور په نامه یاده شوه. په دغه زغل کښې د ادبي جدت تر مخه د جدید رجحاناتو په څنګ د سوشلېزم، کلاسېزم، کمرشلېزم او ګلوبل وېلېج په رنګ اصطلاحات په اولسي، سیاسي او ادبي خلقو کښې عام شو. په دغه خلقو کښې شاعران د هر چا نه وړاندې ګویا شو:

هغــه چــې تــا وې امېلونــه پکښــې نــهٔ خرڅېــږي
اوس هغـه ښـار کښـې د ګـل قنـدو دوکانـدار شـه کنـه[۱۶]

د یو باشعوره شاعر او ځیرک نقاد په حېث صابر هم په جدید انساني روزګار او کاروباري دنیا ژور نظر ساتو. د انساني ژوند په ترقۍ او شخصي سکون ئې د هر اړخ نه خبره کړې ده. د شلمې صدۍ د نیمائۍ نه راپه دېخوا د دنیا کاروبار په نوؤ پېمانو سره خپل اغاز اوکړو. د دغه کچ د ناپ تول دپاره نوي سائنسي منطقي لارې ګودري پېژندل او په عملي توګه سر ته کول د انسان

مجبوري اوګرځېده. ځکه چې په هره تولنه کښې قدم په قدم مشيني روزګار شو. په لارو کوڅو کښې بازارونه اولګېدۀ، ځائے په ځائے مارکيټونه جوړ شو. عالمي منډۍ رواني شوې. خلق په روزګار کښې بوخت شو. هر انسان د شور شغرب سره مخ شو او په تېره تېره د سرمايه داره خلقو خو غرېمۀ کوه چې څه حال شو. د صنعت ګرۍ په دې تېز او تند دور کښې د روس او جاپان جوړ شوي څيزونه په مارکيټونو کښې عام شو. خلقو ډېر خوښ کړۀ او په عالمي منډو کښې غوره اوګرځېدۀ. دغه مالونه د افغانستان په لار پاکستان ته تر ډېرې مودې پورې راتلۀ او تر څۀ حده پورې ئې د دې ځائے معيشت ډېر فعال او مضبوط کړو.

د وخت تېرېدو سره د دنيا دغه مزاج او رجحان نور تېز شو او په نتيجه کښې ئې خلق په يو باقاعده مادي کشمکش کښې بوخت شو. هر کله شاعر اديب د معاشرې دا قسمه عواملو ته پاملرنه کړې ده او د انساني ښېګړې په غرض ئې د ژوند په همه اړخونو باندې رڼا اچولې ده. په دغه سمي جديد شاعر هم خلق د نوي ژوند د نوؤ تقاضو نه خبر کړۀ.

د صابر په شاعرۍ کښې که يو اړخ ته د دغه قسمه حالاتو شعور پروت دے نو بل اړخ ته ئې په ليک کښې نوي نوي خيالات او معلومات په جمالياتي بڼه کښې بيان شوې دي.

# حوالې

[۱] عبدالاکبر خان اکبر، خدائي خدمتګار ډرامه، مخ ۲۲، ۲۷
[۲] ډاکټر صاحب شاه صابر، قامتونه قیامتونه، دانش خپروندویه ټولنه پېښور، ۲۰۰۲ء، مخ ۱۱۳
[۳] صابر صاحب شاه ډاکټر، خوبونه، دانش خپروندویه ټولنه پېښور، دوېم چاپ ۲۰۰۵ء، مخ ۴۲
[۴] هم دغه اثر، مخ ۷۲
[۵] صابر صاحب شاه ډاکټر، تکل، خوشنویس فرمان عمرزئ، پښتو ادبي جرګه درګۍ، ۱۹۸۲ء، مخ ۲۹
۶ سدید انور [6] ڈاکٹر، موضوعات، مکتبہ عالیہ لاہور، ۱۹۹۱ء، ص ۱۲۰
[۷] مواجهه، عثمان اولس یار، پښتو اکېډېمي پېښور ۲۰۱۵ - ۱۲ - ۱۲
[۸] مواجهه، عبدالخالق زیار، ګورنمنټ میډیکل هسپتال درګۍ، ۲۰۱۵ - ۵ - ۱۵
[۹] حفیظ صدیقي ابو الاعجاز، کشاف تنقیدي اصطلاحات، مقتدره قومي زبان اسلام آباد ۱۹۸۵ء مخ ۱۲۳
[۱۰] صابر صاحب شاه ډاکټر، کلیات، مخ ۴۰۲
[۱۱] صابر صاحب شاه ډاکټر، کلیات، مخ ۱
[۱۲] صابر صاحب شاه ډاکټر، خوبونه، مخ ۳۸
[۱۳] هم دغه اثر، مخ ۱۰۰
[۱۴] هم دغه اثر، مخ ۳
[۱۵] صابر صاحب شاه ډاکټر، کلیات، مخ ۱۰۵
[۱۶] اندېش شمس القمر، پېمانه د غزل، ستمبر ۲۰۱۵ء، خوروونکي اولسي ادبي ټولنه مردان، مخ ۳۲۲